

نوي اهداف. نوی ځواک. نوې پنځونې: د کابل د ۲۰۱۵ کال د ټولنیزې سوکالۍ غونډه د پایداري پراختیا پر نویو اهدافو راڅرخي

کابل، د تلې شپږمه، ۱۳۹۴— د افغانستان د ټولنیزې سوکالۍ غونډه نن په کابل کې پدې موخه جوړېږي چې د پایداري پراختیا د نویو اهدافو په اړه پوهاوی لور کړي. پدې غونډه کې به، چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام، په کابل پوهنتون کې د افغانستان د منبع مرکز او سبا تلوېزیون په ګډه تنظیم کړی، له سلو زیات محصلان، د مدني ټولنې فعالان، د پراختیا د برخې کارکوونکي او د دولت استازي ګډون وکړي. پدې غونډه کې به نوښتیزې پراختیایي پروژې وښوول شي او د کارپوهانو لخوا به پدې اړه، چې د پایداري پراختیا اهداف له افغانستان سره څنګه ټراو لرلای شي، یو بحث ترسره شی.

د پایداري پراختیا اهداف د تلې په درېیمه د ملګرو ملتونو په عمومي اسامبله کې د ملګرو ملتونو د ۱۹۳ غړیو هېوادونو لخوا ومنل شول. د پایداري پراختیا دا ۱۷ اهداف د ۲۰۳۰ میلادي کال پورې د بېوزلۍ ختمولو، له ناانډولۍ او بې عدالتۍ سره د مبارزې او اقلیمي بدلون د ناخوالو کابو کولو لپاره رامنځته شوي دي.

دغو جالبو پروژو ته پدې غونډه کې ځای ورکړل شوی: یو کوچني برېښناکوټ چې د کابل په یوه کلیوالي سیمه کې ۱۵۰ کورونه روښانوي؛ د ښځو، کوچنیانو او ډېرو بېوزلو خلکو لپاره د هېواد په څلورو ولایتونو کې وړیا حقوقي مرستې؛ په کندهار کې د کوچنیو کاروبار پیلوونکو لپاره پورونه؛ او یو کمپیوټري پروګرام چې پلار او مور ته دا اسانتیا وربښي چې په ښوونځي کې د خپلو کوچنیانو د ودې بهیر د انټرنېټ په مرسته وڅاري.

پدې غونډه کې به د پراختیا د برخې له کارپوهانو سره پر ښوونه او روزنه، جنسیت برابرۍ، پاکو اوبو او نوې انرژۍ ته لاسرسي، او کلیوالي دندو رامنځته کولو یو بحث هم ترسره شی.

"دا د یوه نوي دور پیل دی چې مونږ ته به دا رونښیي چې پراختیایي هڅې په راتلونکو ۱۵ کلو کې څنګه پرمخ بوزو،" دا خبره په افغانستان کې **د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام رییس، ډګلاس کې،** وکړه او زیاته یې کړه: *"مونږ دا هیله لرو چې نن د پایداري پراختیا له اهدافو خلک خبر کړو او پر دې وغږېږو چې دا اهداف په افغانستان پورې څنګه ټراو لري."*

ګډونوال، د محصلانو او مدني فعالانو په شمول، به د غونډې له بهیره تازه معلومات او هم خپل نظرونه د #GlobalGoals، #2030Now او #SGSKabul هشټګونو په کارولو شریک کړي او پدې توګه به د دې اهدافو په اړه نړیوال بحث ته ورګډ شي.

په افغانستان کې د ټولنیزې سوکالۍ غونډه تر سلو د زیاتو دا ډول غونډو له منځه یوه ده، چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې په همدې ورځو کې جوړې شوي دي.

###

اړیکه:

جلال الدین کسات
په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرام، موبایل: +۹۳۷۹۹۴۵۰۶۳۰، ایمېل:
jalaluddin.kasaat@undp.org

فرهاد زلمی
په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرام، موبایل: +۹۳۷۹۰۵۰۹۱۳۳، ایمېل:
farhad.zalmai@undp.org

شالید: د ملګرو ملتونو پراختیا پروګرام ، له افغان دولت او افغانانو سره په ګډه ، د افغان نارینه او ښځو پر پیاوړي کولو بوخت دی ، چې د دوی د ژوند شرایط ښه کړي او دا هېواد د ناخوالو پر وړاندې لا مقاوم کړي. د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرام د خپلو ټولو فعالیتونو له لارې د بشري حقونو، جنډر برابر ی او د ډېرو بېوزلو او زیان منونکو خلکو د خوندیتوب ملاتړ کوي. *www.af.undp.org*

په اړیکه کې پاتې شئ:
UNDP Afghanistan on Twitter | on Facebook | on Google+ | on Youtube | on Flicker | Contact us

نورې سرچینې:
Our work | Press Center | UNDP Afghanistan in the News | Our Results | Research and Publications